اوونیزه

# هفته نامه معارف

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۱۰) ماه ربیع الثانی ۱۴۴۷ هـ ق. مطابق ماه میزان ۱۴۰۴ هـ ش.


**بهترین تفریح مطالعه کتاب است**

## د پوهنې محترم وزیر له لوري پکتیا ولایت کې د ۱۸ بابه ښوونځیو ودانۍ پرانیستل شوې



د پوهنې محترم وزیر الحاج مولوي حبیب‌الله آغا پکتیا ولایت ته د خپل سفر په ترخ کې د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د ۱۸ بابه ښوونځیو لپاره نوې جوړې شوې ودانۍ د یو لړ شاندارو مراسمو په ترخ کې پرانیستلې. نوې جوړې شوې ودانۍ، چې هره یوه یې ۶ درسي ټولګي، ۱ اداري خونه، د اوبو رسونې او برېښنا مجهز سیستم او نور اړین ملحقات لري، د ۱۹۶ میلیونه افغانیو په لګښت د یوې همکارې ادارې له لوري جوړې شوې چې زرګونو تنو زده‌کوونکو ته یې په مناسب تعلیمي چاپېریال کې د زده‌کړې زمینه برابره کړې ده.

د یادو ښوونځیو د پرانیستو په مراسمو کې د پوهنې محترم وزیر الحاج مولوي حبیب‌الله آغا سربېره د مسلکي انکشاف او تعلیمي نصاب رئیس محترم مولوي اول‌ګل ایوبي ...

۲مخ

## معرفی معین جدید تعلیم و تربیه وزارت معارف

براساس حکم رهبری عالی‌قدر امارت اسلامی افغانستان محترم الحاج مولوی عبدالمالک حقانی به‌عنوان معین جدید تعلیم و تربیه وزارت معارف از سوی محترم الحاج مولوی کرامت‌الله آخندزاده معین تعلیمات اسلامی و سرپرست این وزارت طی مراسمی معرفی و به کارش آغاز کرد.

در این مراسم علاوه بر معین تعلیمات اسلامی و سرپرست وزارت معارف، محترم الحاج مولوی عبدالخالق صادق معین تضمین کیفیت، محترم الحاج مولوی صبغت‌الله وصیل معین مالی و اداری، محترم الحاج مولوی سیف‌الدین طائب معاون ریاست عمومی اداره امور، محترم شیخ مولوی سردار محمد ابوفیضان معاون نظامی ستره محکمه، برخی از رؤسای مرکزی و کارمندان اشتراک کرده بودند.

در آغاز معین محترم تعلیمات اسلامی و سرپرست وزارت معارف درباره اهمیت اصل تغیر و تقرر در نهادهای امارتی صحبت ...

ص۲

## په غزني کې د خلکو په مالي مرسته یو باب ښوونځی جوړ شو

د غزني ولایت جاغوري ولسوالۍ اړوند په زیتون کلي کې د معرفت اولیات په نوم د یو باب لومړني ښوونځي ودانۍ د سیمې اوسېدونکو په مالي مرسته د ۷ مېلیونه افغانیو په لګښت جوړه شوې وه د غزني ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو، علماءکرامو، قومي مشرانو، ښوونکو او زده‌کوونکو په ګډون د یوې غونډې په ترځ کې تر پرانیستو وروسته ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.

د پرانیستې په مراسمو کې، د جاغوري ولسوالۍ پوهنې آمر وویل چې د ټولنې د روښانه راتلونکي لپاره تعلیمي اداري جوړول مهم بنسټ دی او زیاته یې کړه چې د پوهنې پرمختګ لپاره به یې مالي او معنوي ملاتړ دوام ومومي.

د یادونې وړ ده چې د ښوونځي دغه ودانۍ شپږ درسي ټولګي، دوه اداري خونې، یو کتابتون، د څښاک اوبو شبکه، برېښنایي سیستم او نور اړین ملحقات لري.

## د میدان وردګو ولایت په ښوونځیو کې د ښوونیزو توکو د وېش لړۍ پیل شوه



د میدان وردګو ولایت د پوهنې ریاست د ښوونیزو توکو د وېش لړۍ پیل کړه. دغه توکي چې د ۲.۷ مېلیونه افغانیو په ارزښت د مرکز میدان ښار په ګډون د ۹ ولسوالیو په ښوونځیو کې د قرطاسیې او اړتیا وړ ښوونیز توکو د وېش لړۍ پیل کړه.


د میدان وردګ ولایت د پوهنې ریاست مالي او اداري مرستیال محترم مولوي عبدالباسط فهیم وایي: د قرطاسیې په دې کڅوړو کې ۳۷ قلمه توکي لکه سپینې لیک درې، کاماندراه دوسیې. د پرینټر رنګ، سپین کاغذ، تباشیرونه، قلمونه، کتابچې او نور اړین توکي شامل دي چې د پوهنې ریاست له عادي بودجې څخه چمتو او د ولسوالیو د پوهنې آمریتونو له طریقه به د ښوونځیو په زده کوونکو ووېشل شي.

## توزیع مواد درسی برای مکاتب ولایت نورستان

۲۱ قلم مواد و لوازم ضروری درسی به ارزش بیش از ۲.۳ میلیون افغانی از سوی وزارت معارف به هدف تقویت بیشتر امور درسی به ریاست معارف ولایت نورستان انتقال و به مسئولین مربوطه تسلیم گردید.

مسئولین ریاست معارف ولایت نورستان می‌گویند که این مواد درسی از طریق یک روند شفاف و بر اساس یک برنامه منظم به آمریت‌های معارف تمام ولسوالی‌های آن ولایت انتقال و در مکاتب توزیع خواهد شد تا شاگردان از آن در امور درسی به‌صورت مؤثر استفاده نمایند. مسئولین ریاست معارف از وزارت محترم معارف ابراز سپاس‌گزاری کرده و تصریح نمودند که ادامه چنین کمک‌ها نقش مهمی در ارتقای کیفیت آموزش مؤثر ایفا خواهد کرد.

## تهداب‌گذاری ۱۰ باب اطاق اداری و ترمیم دو باب مکتب در ولایت دایکندی



وزارت معارف پروژه احداث ۱۰ باب اطاق اداری برای شعبات ریاست معارف ولایت دایکندی، ترمیم مکتب ویرمنا در ولسوالی خدیر و مکتب سیدجمال‌الدین در ولسوالی پاتو آن ولایت را به هزینه ۴.۵ میلیون افغانی از بودیجه این وزارت آغاز کرد.

پروژه های مذکور که به هدف ایجاد فضای مناسب برای ادارات معارف و شاگردان، برای انکشاف هرچه بیشتر ...

ص۲

## په بلخ کې د ښوونځي نوې ودانۍ پرانیستل شوه



د بلخ ولایت نهرشاهي ولسوالۍ اړوند د فردوسي ښوونځي نوې ودانۍ، د یوې همکارې ادارې په مالي مرسته د ۹ مېلیونه او ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړه او د یاد ولایت د پوهنې ریاست مسئولینو او یو شمېر سیمه ایزو قومي مشرانو په حضور کې پرانیستل شوه.

د بلخ ولایت د پوهنې رئیس محترم مفتي محمد شریف عثماني وویل چې د یاد ښوونځي ودانۍ په دوه پوړونو کې په پاخه او اساسي ډول جوړه شوې ده چې ۶ درسي ټولګي، ۶ غرفې تشنابونه، د څښاک پاکو...

۲مخ

سرمقاله

## هڅونه هغه نسخه ده چې زده کوونکي تر خپلو موخو رسوي

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلَی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

د ماشوم د زده کړې لومړنی بنسټ کورنۍ ده. ماشوم له خپلو والدینو سره تر ټولو زیات وخت تېروي او له دوی څخه هغه څه زده کوي کوم چې والدینو یې شرایط ورته برابر کړي دي. والدین د خپل ماشوم په پوهنه کې حیاتي رول لري. هغه که په هر عمر کې وي (په مدرسه یا ښوونځي کې درس وایي او که په پوهنځي کې). نو د والدینو پاملرنه ډېره اړینه ده، تجربې ثابته کړې هغه ماشومانو ته چې د والدینو لخوا ورته ښه پاملرنه کېږي د هغو ماشومانو په پرتله چې والدین یې ورته په ښه توګه پاملرنه نه کوي ښې زده کړې کوي او په خپل ژوند کې بریالي او ښې لاسته راوړنې لري.

کله چې یوه کورنۍ خپل ماشوم وهڅوي، له مدرسې، ښوونځي او درس سره مینه پیدا کوي. هغه زده‌کوونکی چې د پلار او مور له خوا هڅول شوی وي، له درس سره ژوره علاقه پیدا کوي، له ستونزو نه ویره نه لري، او ځان با اعتماده احساسوي. همداراز، هغه ښوونکی چې د زده کوونکي هڅه او وړتیا ویني او هڅوي یې د زده‌کړې بهیر یې ډېر ښه وي. که ماشومانو په آزموینو کې ښې او لوړې نمرې تر لاسه کړي ویې ستایئ. که کمې نمرې یې واخیستې ښه والي او زیارکښۍ ته یې وهڅوئ.

په آزموینه کې د بري لپاره دوی نور هم وهڅوئ چې زیات زیار وباسي او بیرته راپورته شي او له نوي تصمیم او ښه پلان سره زده کړو ته مخه کړي.

ښوونکي ته هم ښایي چې د زده‌کوونکو کوچنۍ لاسته راوړنې هم وستایي، او کورنۍ هم باید د نمرو پر ځای د خپلو اولادونو سره د زده کړې په برخه کې پوره مرسته وکړي. تشویق د زده‌کوونکو د استعداد او پوهې د ودې لپاره داسې سرچینه ده چې له هرې درسي وسیلې هم مهمه ده.

ماشوم چې هڅول کېږي، په ځان باور پیدا کوي، خپلې راتلونکې موخې ټاکي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره هڅه کوي، همداراز طالب العلمان او زده‌کوونکي له زده‌کړې نه ستړي کېږي بلکې له زده کړې سره یې نور هم شوق او مینه پیدا کېږي. که موږ اسلام او هېواد ته ژمن نسل روزل غواړو، نو د مدرسې او ښوونځي تر څنګ باید په کور کې هم د خپلو ماشومانو په ښوونه او روزنه کې پوره هڅه وکړو، په پای کې باید ووایو چې ټولنه، کورنۍ، استاذان او ښوونکو ته لازمه ده چې د زده‌کوونکو ملاتړ، تشویق او په ښه توګه روزنه وکړي، تر څو ماشومان یواځې ښه زده‌کوونکي نه، بلکې ښه، اسلام پال او خدمتګار انسانان هم شي.

# فعال سازی لابراتوارهای استفاده از مواد محیطی در مکاتب ولایت بامیان

وزارت معارف برای انجام فعالیت های عملی و علمی شاگردان در مکاتب ولایت بامیان لابراتوار های استفاده از مواد کار افتاده و اشیای باطله را فعال نمود تا شاگردان با رهنمایی معلمان از مواد و اشیای ذکر شده در تجارب عملی دروس شان استفاده نمایند. به گفته مسئولین معارف آن ولایت، در سال جاری، معلمان مکاتب در آن ولایت با استفاده از مواد کارافتاده و ضایعات تدریس دروس شاگردان را به وجه بهتر و به گونه مفید پیش برده که نتایجی ملموسی به جاگذاشته است.

قابل یادآوریست که وزارت معارف یک باب لابراتوار مرکزی را نیز جهت ارتقای ظرفیت علمی و عملی معلمان مضامین ساینسی در ولایت بامیان ایجاد نموده که در آن معلمین مضامین ساینس و ریاضیات آموزش های استفاده از مواد محیطی را به کمک اعضای علمی مرکز ساینس کسب نموده و درمکاتب خویش مورد استفاده قرار می دهند.

# سنگ تهداب ۴ پروژه مهم به هزینه (۱۹.۵) میلیون افغانی در ولایت پکتیا گذاشته شد

براساس شفقت خاص امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، سنگ تهداب تعمیر اساسی برای لیسه ابتدائیه حضرت عمر فاروق( رضی الله تعالی عنه) در ولسوالی دندپتان، تعمیرهای اساسی برای مدارس دینی شیرختل و سراج‌العلوم در ولسوالی ځاځی آریوب، و احاطه برای لیسه عالی بیان‌خیل به هزینه مجموعی ۱۹.۵ میلیون افغانی طی مراسم ویژه گذاشته شد.

در این مراسم محترم الحاج مولوی محمد اسماعیل غزنوی معاون وزارت سرحدات و قبائل، محترم شیخ‌الحدیث مولوی انعام‌الله صلاح‌الدین معاون والی پکتیا، محترم الحاج مولوی عبدالقیوم فاروقی رئیس معارف، رئیس شورای علما، رؤسا و مسئولین امارتی، بزرگان قومی و مردم محل حضور داشتند.*

اشتراک کنندگان به نوبه خود صحبت کرده، ضمن قدردانی از شفقت ویژه امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی برای منظور شدن این پروژه‌ها، از توجه وزارت معارف به محلات دور افتاده مرزی قدردانی نموده و از مردم خواستار همکاری و استفاده مناسب از اموال عام‌المنفعه شدند.

همچنان بزرگان قومی نیز طی سخنان شان مشکلات مردم مناطق مرزی را با مسئولین شریک ساخته و مسئولین از هر نوع همکاری اطمینان دادند.

**د پوهنې محترم وزیر له لوري...**

د پکتیا د والي مرستیال محترم شیخ‌الحدیث مولوي انعام‌الله صلاح‌الدین، د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي عبدالقیوم فاروقي، یو شمېر رئیسانو، امارتي مسئولینو، علماء کرامو او قومي مشرانو هم ګډون کړی وو.

د پوهنې محترم وزیر د خپلو خبرو په ترځ کې د پکتیا ولایت اوسېدونکو ته د ښوونځیو نویو جوړو شوو ودانیو له امله مبارکۍ وویله او زیاته یې کړه چې هېوادوال باید د خپل هېواد د بیا رغونې په برخه کې متې را ونغاړي.

نوموړي زده‌کوونکو، استاذانو او نورو مسئولینو ته توصیه وکړه چې د نورو هېوادونو د تجربو په نظر کې نیولو سره باید له خپلو استعدادونو سالمه او اغېزمنه ګټه پورته کړي. هغه د دیني او عصري علومو زده کړه د ټولو لپاره ضروري وبلله او ټینګار یې وکړ چې د هېواد دپرمختګ او بیا جوړولو لپاره باید ځانونه پوره چمتو کړو.

د پوهنې محترم وزیر زده‌کوونکي د افغانستان د راتلونکي معماران وبلل او ویې ویل، "زموږ ځوانان باید د نورو اسلامي هېوادونو د ځوانانو په څېر د خپل هېواد د آبادۍ فکر ولري".

نوموړي پرمختګ او ترقي د شهیدانو د وینو ثمره وبلله او د مسنون لباس اغوستل یې د بدن لپاره هوسایي وباله. ټینګار یې وکړ چې پرمختګ باید یواځې تر لباس پورې محدود نه شي.

د پکتیا د پوهنې رئیس د محترم پوهنې وزیر او نورو مېلمنو د هرکلي تر څنګ، له خپل انجنیري ټیم او هغو همکارو ادارو څخه مننه وکړه چې پر وخت یې د انکشافي چارو څارنه کړې ده. نوموړي د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: د زده‌کوونکو او استاذانو لپاره د معیاري چاپېریال برابرول د زده‌کړې لپاره ښه زمینه برابروي. هغه زیاته کړه، موږ هڅه کوو چې زده‌کوونکي په اسلامي روحیې سره وروزو او د پردیو لاسونه لنډ کړو.

په جوړه شوې غونډه کې د پکتیا د والي مرستیال هم د پوهنې وزیر ته د ښه راغلاست ویلو تر څنګ د ښوونکو مهمو مسئولیتونو ته اشاره وکړه او ویې ویل، له زده‌کوونکو سره باید د خپلو اولادونو په څېر چلند وشي او سالمه ښوونه او روزنه ورته ورکړل شي. نوموړي له زده‌کوونکو هم وغوښتل چې تل دخپلو مشرانو او والدینو درناوی وکړي.

**معرفی معین جدید تعلیم و...**

نموده، مسئولیت‌ها را به‌گونه همه‌جانبه توضیح داد.

پس از معرفی معین جدید، از خدمات گذشته معین قبلی نیز قدردانی نموده و برای شان در مسئولیت‌های جدید آرزوی موفقیت نمود.

همچنان نامبرده به تمامی کارمندان وزارت معارف هدایت داد تا به مسئولیت‌های خویش توجه جدی نمایند و به‌گونه دوامدار از اوامر آمرین خویش اطاعت کنند.

سپس محترم الحاج مولوی عبدالمالک حقانی معین جدید تعلیم و تربیه وزارت معارف در سخنرانی خویش از اعتماد و باور مقام عالی رهبر امارت اسلامی افغانستان و رهبری وزارت معارف اظهار سپاس نموده، افزود: علم و دانش در پیشرفت همه‌جانبه، تمدن و تکامل جامعه نقش اساسی دارد، وی وعده سپرد که برای پیشرفت هرچه بیشتر نظام تعلیمی از هیچگونه سعی و تلاش دریغ نخواهد کرد.

در همین حال حکم رهبر عالی‌قدر امارت اسلامی افغانستان در مورد تقرر معین جدید تعلیم و تربیه وزارت معارف از سوی معاون ریاست عمومی اداره امور قرائت گردید.

در اخیر، محفل با دعای پر خیر و برکت توسط معین محترم تضمین کیفیت وزارت معارف به پایان رسید.

**په بلخ کې د ...**

اوبو لپاره ځاه او نور اړین لوازم لري. د هغه په وینا د دې ښوونځي ودانۍ په جوړېدو سره د سیمې سلګونو تنه زده‌کوونکو ته د زده کړې خوندي او مناسب تعلیمي چاپېریال چمتو شوی.

په دې غونډه کې د بلخ ولایت د والي مرستیال محترم مولوي نورالهادي ابو ادریس په خپله وینا کې د علم او پوهې د اهمیت په اړه هر اړخیزې خبرې وکړې او د هېوادوالو یې وغوښتل چې خپل ماشومان د هغوی د ښې او روښانه راتلونکې لپاره مدرسو او ښوونځیو ته واستوي.

په همدې حال کې د سیمې اوسېدونکو هم د یاد ښوونځي له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د پوهنې وزارت له پروګرامونو څخه یې چې په هېواد کې د ښوونیز نظام د لا ښه والي او پیاوړتیا لامل ګرځي خپل ملاتړ څرګند کړ.

**ایجاد بیش از ۳۳۷ مرکز ...**

سوادآموزی در ولایت دایکندی جذب شده‌اند. این افراد در ۸۰ مرکز سواد آموزی، از سوی ۵۲ تن معلم رسمی وزارت معارف و معلمان رضاکار، آموزش می بینند.

همچنان در ولایت فاریاب ۹ باب کورس سوادآموزی فعال گردیده که ۱۰۸ تن از کوچی‌ها و زندانیان در آن مشغول آموزش هستند و به‌منظور آگاهی‌دهی عامه در مورد سوادآموزی، ۱۵۰۰ جلد بروشور توزیع شده و بیش از ۶۰ نشست هماهنگی با علمای دینی و استادان برگزار گردیده است.

به گفته مسئولان معارف ولایات یاد شده این فعالیت‌ها گام‌های مهمی در راستای گسترش آموزش سواد در آن ولایت به‌شمار می‌رود و تلاش دارند تا برنامه‌های مشابهی را به تمام مناطق این ولایت ها توسعه دهند تا میزان بی‌سوادی کاهش یابد.

**په زابل کې د یو باب دیني مدرسې...**

د معلوماتو له مخې یاده ودانۍ د ۶۳۰ زره افغانیو په لګښت په یو نیم جریب ځمکه کې جوړېږي چې په جوړېدو سره به یې د سیمې تر ۶۰۰ زیاتو زده کوونکو ته د زده کړې مناسب چاپېریال را منځ ته شي.

د پوهنې وزارت د هېوادوالو په ځانګړې توګه د زابل ولایت د علم پروره اوسېدونکو له مادي او معنوي مرستو له امله مننه کوي.

**د پوهنې محترم وزیر د ...**

لکه څنګه چې خپل اولادونه روزئ. دغه زده کوونکي د هېواد راتلونکي معماران دي، باید له اوسه یې په ښه توګه وروزو."

همداراز په دې غونډه کې د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق هم په خپلو خبرو کې د عصري علومو د ودې او پرمختګ لپاره د اسلامي امارت د مشرتابه او د پوهنې وزارت د رهبرۍ د بشپړې ژمنې یادونه وکړه او آمرینو ته یې وویل: "هر آمر باید په خپل کار کې متعهد واوسي، ځکه که متعهد و نه اوسو د الله تعالی په وړاندې به مسئول یو. د زده کوونکو د زده کړو کیفیت لوړ کړئ او د پوهنې وزارت لایحې په بشپړه توګه عملي کړئ."

د غونډې په پای کې د کابل ښار د ښوونځیو آمرینو خپل پرمختګونه او ستونزې د پوهنې وزارت له رهبرۍ سره شریکې کړې او ژمنه وشوه چې د یادو ستونزو د حل لپاره به اړین ګامونه پورته شي

**تهداب‌گذاری ۱۰ باب اطاق...**

معارف در آن ولایت مفید عنوان شده و باعث رشد چشمگیر تعلیم و تربیه خواهند شد.

## لنډخبرونه

### پنجشیر

یک نهاد خیریه به طلاب لیلیه مدارس و دارالایتام در ولایت پنجشیر البسه زمستانی مساعدت نمود.
البسه مساعدت شده شامل کمپل، لباس، پتو، دستمال، جمپر و کلاه میباشد که به ۵۰۰ تن طلاب مدارس و دارالایتام توزیع گردید.
محترم مولوی محمود طالب ثاقب رئیس معارف ولایت پنجشیر مساعدت البسه زمستانی را به طلاب در آستانۀ فرارسیدن فصل زمستان گام ارزشمند دانسته و از نهاد خیریه به خاطر این کمک ها ابراز تشکری نمود.

### بدخشان

به هدف تشریح و توضیح طرح‌های روند ساده‌سازی اداری و آشنایی کارمندان معارف با روش‌های جدید اداری، ورکشاپ یک‌روزه تحت عنوان «پروسه ساده‌سازی اداری» با حضور محترم الحاج مولوی محمد طاهر جواد رئیس معارف ولایت بدخشان و محترم بریالی ابدالی رئیس ساده‌سازی ریاست اصلاحات اداری و خدمات ملکی و منسوبین ریاست معارف بدخشان در سالون جلسات آن ریاست برگزار گردید.

### دایکنډي

د عامو خلکو لخوا د دایکنډي ولایت کجران ولسوالۍ اړوند سلیمان اباد لېسې ته ۸ جریبه ځمکه وقف او اسناد یې رسماً د یاد ولایت پوهنې رياست ته وسپارل شول.
د دایکنډي پوهنې مسئولینو د ولس دغه اقدام صدقه جاریه نېک عمل وګانه او هغه يې د علم او پوهې سره د خپلې مینې ښکاره نښه وبلله.

### پروان

د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معینیت د احصایې او معلوماتو د رئیس محترم مولوي بسم الله نعماني په مشرۍ پلاوی پروان ولایت ته سفر وکړ.
د یاد سفر اصلي موخه د یاد ولایت پوهنې ریاست لخوا راټولې شوې احصایې بیاکتنه او تائید دی چې څه موده وړاندې د کیفیت تضمین آمریت د احصایې مدیریت لخوا راټوله او په سیستم کې ثبت شوې ده.

### کابل

د پوهنې وزارت له لوري د کابل ولایت د ښوارلسو ولسوالیو ښوونځیو او مدارسو ته د ۲۶۵ زره او ۵۳۲ ټوکه درسي کتابونو وېش لړۍ پیل شوې ده.
د کابل ولایت پوهنې ریاست مسئولین وايي، تر دې دمه په یاده پروسه کې د دې ولایت د پنځو ولسوالیو ښوونځیو ته کتابونه وېشل شوي او تمه ده چې د نورو ولسوالیو لپاره دغه لړۍ تر راتلونکې اوونۍ پورې بشپړه شي.

### غور

په روان کال کې، د غور ولایت پوهنې ریاست په مرکز او ولسوالیو کې په ټولیزه توګه ۱۰۴ بابه د سواد زده‌کړې کورسونه جوړ کړي دي. په دې کورسونو کې سیمه ییز وګړي ، روږدي کسان، کوچیان، کډوال ، بندیان او د ځینو رسمي ادارو خدماتي کارکوونکي په زده کړو بوخت دي.

### هرات

روند ترمیم پروژه‌های ۷ باب مکاتب و مدارس دینی در سطح شهر و ولسوالی‌های فارسی، رباطسنگی، ادرسکن، کرخ، پشت کوه و زاول ولایت هرات جریان دارد. محترم مولوی رحمت‌الله جابر رئیس معارف ولایت هرات میگوید: این پروژه ها به ارزش حدود ۶ میلیون افغانی از بودجهٔ وزارت معارف در حال تطبیق بوده و با اکمال آن هزاران تن از شاگردان مکاتب و طلاب مدارس در ولسوالی‌های یادشده از محیط مناسب تعلیمی مستفید خواهند شد.

### میدان وردګ

د پوهنې ریاست د حیاتي سواد زده‌کړو مدیریت لخوا د یاد ولایت د امنیه قوماندانۍ اړوند زندان کې د نالوستو بندیانو لپاره د سواد زده‌کړې دوه ټولګي پرانیستل شول.

# د یو مهربان سپین ږیري لنډه کیسه

**ژباړه: حامد حقمل**

د الله جل جلاله په مخلوقاتو رحم وکړئ! چې خدای جل جلاله دربانديې رحم وکړي.
یو تن سپین ږیری کارګر چې تقریباً د پنځوسو کلونو عمر یې درلود. د یو ښارګوټي په څنډه کې یې ژوند کولو، دغه سپین ږیری ډېر بېوزله او د ډېرو اقتصادي ستونزو سره مخ وو، سپین ږیری به چې سهار وخته پاځېده مخ د چوک پر لور به روان شو چې کار وکړي. کله به چې ماښام شو نو دومره څه به یې را پیدا کړي وو څومره به یې چې کار کړی و. خو کله کله به داسې ورځې هم پرې راتللې چې ده هېڅ کار نه و کړی او تش لاس به کور ته راستون شو اولادونه به یې د شپې وږي ویده کېدل او سهار به نار پاځېدل.
یوه ورځ سپین ږیری بوډا له سهار نه تر ماښامه کار وکړ کله چې د کور په لور راتلو نو د نان وايي څخه یې درې ډوډۍ را واخیستې او د کورته په لور روان شو د لارې په اوږدو کې یې ناڅاپه د سپي د زګیروي غږ واورېدو.
د سپین ږیري زړه نا ارامه شو، د سپي خواته ور روان شو کله چې نږدې ور ورسېد؛ ولیدل چې په یوه خرابه کې یو سپی او ورسره یې کوچني کونګري هم وو چې له لوږې یې نور نه حرکت کولای شوی او نه یې هم نوره ساه ایستلی شوی، نو په همدې شېبه کې هغه سپین ږیري چې درې ډوډۍ یې خپل کور ته اخیستې وې. له هغې څخه یې یوه سپي ته واچوله.
سپي چې کله پرې شروع وکړه نو د سپي په ځان کې لږ لږ حرکت پیدا شو، سپین ږیري دوهمه ډوډۍ هم سپي ته واچوله. چې سپین ږیري ته یوه ډوډۍ پاتې شوه بالاخره له همغې یوې ډوډۍ سره کور ته روان شو.
کله چې یې ماشومانو خپل پلار له یوې ډوډۍ سره ولید نو ورته یې وویل ولې د نن ورځ یوه ډوډۍ راوړې؟ څه شوي ؟ سپین ږیري ورته وویل.« نن ورځ مې همدومره کار وکړ چې د هغه له مزد څخه مې همدا یوه ډوډۍ واخیستلی شوه»
څو ورځې چې تیرې شوې نو همدا سپین ږیری داسې بډایه( سرمایه دار) شو. چې سم د لاسه په همدې ښار کې د څو دوکانونو څښتن شو. د دې سپین ږیري په ژوند کې دې بدلون ته خلک هم حیران پاتې شول.
سپین ږیری هم خپل ځان ته او همدې یو ناڅاپه بدلون ته ډېر حیرانه پاتې شو، خلکو او ده له ځان سره دا فکر کولو چې څنګه داسې یو دم دومره بډایه (سرمایه دار) شو.
وروروسته له ډېروفکرونو دې پایلې ته ورسېدل، چې د دې بډایه کېدو علت یوازې او یوازې هماغه وو چې هغه وږي سپي ته یې ډوډۍ ورکړه او په همغه یې رحم وکړ.
نو که چیرې تاسو هم پر یو بل باندې رحم وکړئ؛ په دې کې شک نشته چې الله جل جلاله به پر تاسو رحم وکړي.

# د ماشوم روزنې په اړه ۱۵ سپارښتنې


۱ د ماشوم مخکې بدې خبرې، جنجال او قهرجنې صحنې مه راوړئ، ځکه دا د هغوی زړه ته ویره او ګډوډ فکر ورکوي.
۲. ماشوم ته په خپله ښه مثال واوسه، ځکه ماشومان هغه څه زده کوي چې ګوري، نه هغه چې اوري.
۳. ماشوم ته غوږ ونیسه، ځکه د هغوی کوچنۍ خبرې د ستر شخصیت بنسټ جوړوي.
۴. د ماشوم هڅونه وکړه، حتی د کوچنیو لاسته راوړنو لپاره، ځکه دا هغوی ته د باور وزرونه ورکوي.
۵. ماشوم ته وخت ورکړه، ځکه ستا حضور د هغوی لپاره تر هر لوبي، تحفې او خبرو ډېر ارزښت لري.
۷. د ماشوم پوښتنو ته له حوصلې سره ځواب ورکړه، ځکه پوښتنه د عقل دروازه ده، مه یې بندوه.
۸. د ماشوم زده‌کړې ته دوامداره پام وکړه، ځکه چې تعلیم د ماشومتوب بنسټ دی او له همدې بنسټ نه راتلونکی جوړېږي.
۹. مینه د ماشوم لپاره لکه لمر ده؛ که نه وي، شخصیت یې سوړ، بې‌اعتماده او تورتم ته نږدې شي.
۱۰. ماشوم ته بې‌شرطې مینه ورکړه، ځکه مینه هغه غږ دی چې د ماشوم زړه ته امنیت داډ، باور او خوشالي وربخښي.
۱۱. مبایل ماشوم ته یوازې هغه وخت ورکړه، چې هدف، وخت او څارنه یې روښانه وي، ځکه بې کنټروله مبایل ذهن ته زیان رسوي، نه فایده.
۱۲. د ماشوم تربیه د ونې کرلو په څېر ده؛ که یې په کوچنیتوب کې سمې اوبه ورکړې، سیوری به یې په زړښت کې خوند درکړي.
۱۳. ماشوم ته دا زده کړه ورکړه چې بد کارونه ظاهراً اسان وي، خو پایله یې تل پښېماني وي؛ غوره ده تل د حق لاره وټاکي.
۱۴.د بدو او ناوړو خلکو د، ملګرتیا او ورسره کیناستلو او ودرېدو څخه یې وژغورئ.
۱۵. ماشوم ته نظم ور زده کړه، ځکه منظم ژوند د بریالیتوب او ښه شخصیت پله ده.

**لیکونکی : ح جلال**

## کتاب

انیس کنج تنهایی کتاب است
فروغ صبح دانایی کتاب است
بود بی مزد و منت اوستادی
ز دانش بخشدت هر دم گشادی
ندیمی مغز داری پوست پوشی
به سر کار گویایی خموشی
درونش همچو غنچه از ورق پر
به قیمت هر ورق زان یک طبق در
ز یک رنگی همه هم روی و هم پشت
گر ایشان را زند کس بر لب انگشت
به تقریر لطایف لب گشایند
هزاران گوهر معنی نمایند

**جامی**



# آشنایی با عجیب ترین پدیده های کره زمین

### چشم صحرا



چشم صحرا که به ساختار ریچات نیز معروف است با قطر ۴۰ کیلومتر شباهت زیادی به شکل چشم دارد. در ابتدا دانشمندان تشخیص دادند که این ساختار در اثر برخورد شهاب ایجاد شده است. اما بعدها زمین شناسان تشخیص دادند که این پدیده یک گنبد زمین شناسی متقارن است که زمان تقسیم ابرقاره پانگه آ فشار زمین باعث ایجاد آن شده است.

### ساحل درخشان بیولومینسنت



این ساحل درخشان در هنگ کنگ شبها نور بسیار زیبا و چشمگیری از خود منتشر می کند. همانطور که می گویند این پدیده در اثر آلودگی کشاورزی ایجاد شده است و می تواند برای ماهی ها و موجودات دریایی بسیار مضر و خطرناک باشد. درست است که ظاهر زیبایی دارد اما به همان اندازه خطرناک نیز هست.

### کوهستان رنگین کمانی چین



شاید یکی از دلایلی که انسان را به نقاشی علاقمند کرده است همین کوهستان زیبای رنگین کمانی چین باشد که در پارک زمین شناسی Zhangye Danxia واقع شده است. این مکان جزو میراث یونسکو اعلام شده و رنگ های آن در اثر مواد معدنی و اکسید آهن بوجود آمده است.

### جنگل کج



در نگاه اول به نظر می رسد این تصویر از کتاب هری پاتر گرفته شده اما این درخت ها کاملا طبیعی هستند که در سال ۱۹۳۰ کاشته شده اند. تمام درختان این جنگل به سمت زمین خمیده هستند و هنوز هم کسی نتوانسته علت آن را کشف کند.

# Marif
Weekly

کتنپلاوی:
شیخ محمد طاؤس «طارق»
مولوي عزيز احمد «ريان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعيب «حقيقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسيم «عياذ»
مسئول مدير: سعيد «جلال»
انځور اخيستونکی: محمد ادريس «نوري»

صفحه آرا: محمد قسيم «يعقوبي»
شمېر: ۳۰۰۰
پته: کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او عامه اړيکو رياست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمريت

**د پوهنې کاروان مينه والو!**
تاسو کولای شئ خپلې ليکنې، وړانديزونه او نيوکې په لاندې برېښنا ليک او تليفون شمېرې له موږ سره شريکې کړئ.
Marifnewspaper1919@gmail.com
د اړيکي شمېره: ۰۷۲۸٤۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 310 /2025



# د پوهنې محترم وزير د کابل ښار د ښوونځيو له آمرينو سره وکتل



د کابل ښار اروند ښوونځيو د ښوونيز وضعيت د لا ښه والي په موخه د پوهنې وزير محترم الحاج مولوي حبيب الله آغا په مشرۍ په داسې حال کې چې مالي او اداري معين محترم الحاج مولوي صبغت الله وصيل، د ښوونې او روزنې مخکني معين محترم الحاج مولوي سخاءالله سعيد، د کيفيت تضمين معين محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق او د کابل ښار پوهنې رئيس مولوي جنت ګل عزيزي حضور درلود د کابل ښار د يو شمېر ښوونځيو له آمرينو سره غونډه ترسره کړه.
غونډه د مالي او اداري معين الحاج مولوي صبغت الله وصيل په وينا پيل شوه. نومړي د ګډونوالو هرکلی وکړ او د غونډې اجنډا يې ورسره شريکه کړه.
ورپسې د پوهنې وزير محترم الحاج مولوي حبيب الله آغا د ښوونځيو آمرينو ته د ښوونې او روزنې د کيفيت لوړولو او ښه کولو ټينګار وکړ او زياته يې کړه: "زموږ د هېواد پرمختګ د عصري علومو له لارې امکان لري، نو له همدې امله بايد زده‌کوونکي د ديني علومو تر څنګ په عصري علومو کې هم ښه وروزو." نومړي له آمرينو وغوښتل چې ښوونکو ته د زده کړو روحيه ورکړي، هغوی مکلف کړي چې د زده‌کوونکو ورځنی ارزونه او د زده کړې په برخه کې د زده کوونکو ستونزو ته په ښه توګه رسېدنه وکړي.
د ښوونې او روزنې مخکني معين محترم الحاج مولوي سخاءالله سعيد په خپلو خبرو کې وويل: "هېوادوالو خپل ماشومان تاسو ته سپارلي دي؛ هغوی داسې وروزئ ...

۲مخ

## ايجاد بيش از ۳۳۷ مرکز سوادآموزی در ولايت های غزنی، دايکندی و فارياب



وزارت معارف به هدف برنامه محوه بی سوادی در کشور از آغاز سال ۱۴۰۴ خورشيدی تا کنون ۲۴۸ باب مرکز سواد آموزی در ولايت غزنی، ۸۰ باب مرکز سواد آموزی در ولايت دايکندی و ۹ باب مرکز سواد آموزی در ولايت فارياب ايجاد کرده است که مجموعاً ۶۸۴۱ تن در اين مراکز مصروف فراگيری آموزش سواد ميباشند.
بر اساس معلومات مسئولان رياست معارف ولايت غزنی مراکز سواد آموزی در محبس قوماندانی امنيه، کمپ ترک اعتياد، شفاخانه حوزوی و شماری ديگر از ادارات دولتی مرکز و ولسوالی های اين ولايت ايجاد گرديده است که در کل۵۱۳۳ تن شاگرد در آن مصروف فراگيری آموزش خواندن و نوشتن ميباشند که از سوی ۱۱۷ تن معلم رسمي به آنها آموزش داده ميشود، همچنان در کنار مراکز ذکر شده ۳ باب مکتب رسمی سواد آموزی که دو باب آن در مرکز و يک باب در ولسوالی گيلان موقعيت دارد نيز از سوی وزارت معارف فعال گرديده که روند فراگيری دروس سواد آموزی برای آينده بهتر شهروندان در آن عملا جريان دارد.
در اين حال به تعداد ۱۶۱۳ تن افراد محروم از نعمت سواد در کورس‌های...

ص۲

## سنگ تهداب يک باب مدرسه دينی در ولايت غزنی گذاشته شد



سنگ تهداب ساخت يک باب مدرسه دينی بنام صديقيه، در قريه دولانه در مربوطات ولسوالی مقر ولايت غزنی طی محفلی با حضور مسئولين معارف، علماء كرام و باشنده گان آن ولسوالی گذاشته شد.
به گفته مسئولان رياست معارف ولايت غزنی هزينه ساخت تعمير مدرسه مذکور ۵۰۰ هزار افغانی تخمين شده است که از سوی باشنده گان محل تمويل می گردد. مسئولان معارف ميفزايند که تعمير ياد شده دارای۴ صنف، ۱ سالون بزرگ درسی و ساير ملحقات ضروری ميباشد که در مساحت يک جريب زمين ساخته خواهد شد.
به گفته آنان با ساخت اين مدرسه مشکل نبود مکان تعليمی برای ده ها تن طلاب مدرسه حل می‌شود و برای اطفال محل يک محيط آموزشی مناسب و معياری فراهم می‌گردد.

## په زابل کې د يو باب ديني مدرسې او يو باب ښوونځي د بنسټ ډبرې کېښودل شوې

په زابل ولايت کې د عامو خلکو په مالي مرسته د يو باب ديني مدرسې او يو باب ښوونځي ودانۍ د جوړېدو د بنسټ ډبرې د دوو جلا غونډو په ترڅ کې چې د پوهنې رياست د مسئولينو سرپرېره په کې زيات شمېر علماء کرامو او قومي مشرانو ګډون کړی وو کېښودل شوې.



د زابل ولايت د پوهنې رياست د مسئولينو د معلوماتو له مخې په سيوري ولسوالۍ کې د انوارالعلوم په نوم يو باب ديني مدرسه چې ۳ درسي ټولګي، يوه اداري خونه او نورې اړينې اسانتياوې به ولري د ۱۵۰ زره افغانيو په لګښت چې د عامو خلکو لخوا مرسته شوې په يو نيم جريب ځمکه کې جوړېږي چې په جوړېدو سره به يې شاوخوا ۱۵۰ تنه طالب العلمانو ته د زده کړې مناسب چاپېريال را منځ ته شي.
همداراز د شاجوی ولسوالۍ اړوند امام ابويوسف رحمه الله لېسې ودانۍ د بنسټ ډبره کېښودل شوه چې ۹ درسي ټولګي او نور اړين ملحقات به ولري. د پوهنې رياست د مسئولينو ...

۲مخ

## کندز ولايت ته د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس سفر

د پوهنې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس محترم مولوي جمعه خان سروري کندز ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې د دې ولايت د پوهنې له رئيس محترم الحاج مولوي حزب‌الله مبشر او د ياد رياست له کارکوونکو سره غونډه ترسره کړه.
په دې غونډه کې محترم مولوي جمعه خان سروري د پوهنې رياست له کارکوونکو وغوښتل چې د خپلو دندو د ترسره کولو ترڅنګ، خپل سيرت او چلند د نبوي سنتو او اسلامي اخلاقو سره برابر کړي.
هغه زياته کړه چې ښوونکي او د پوهنې کارکوونکي د ټولنې د جوړونې مهم رکن دي او بايد د خپلو کړنو له لارې د نورو لپاره د ښه سلوک او رښتينولۍ بېلګه وګرځي.
د کندز ولايت د پوهنې رئيس محترم الحاج مولوي حزب‌الله مبشر هم د غونډې پر مهال ژمنه وکړه چې د ياد رياست کارکوونکي به د اصلاح، نظم او همغږۍ په فضا کې خپلې دندې پرمخ وړي.

**راځئ چې د هېواد نوی نسل د تدين او هېواد پالنې پر روحيه او په محمدي ﷺ اخلاقو سمبال وروزو**